# د ډاکټر اباسين يوسفزي په شاعرۍ کښې انځور ګري
# Imagery in the poetry of Dr Abaseen Yousafzai

Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai1

Dr.Nasrullah Khan2

Abstract

*Imagery is the main focus of the word. When we listen a word the image is made in our mind and we get it through our senses. The word is ful of images and every one had worked on image. The scientist,scholars and even the poets. Imagery is one of the fields of linguistics. But the real image is that which give the real sensation to the man. Words are images and when a poet make the real image through his modest words the words speak. The same case is of Dr.Abaseen Yousafzai whose words are the real images of our feelings and nature as well. This paper will discuss that point of imagery in the poetry of Dr. Abaseen Yousafzai. The research is based on the published poetry of the mentioned poet.*

*Keywords: image, picture,imagery, senses,words's imges,real images,poetry and words.*

Pukhtunkhwa Journal

[1] Lecturer in Rahman Baba Chair, Department of Pashto, ICP

[2] Assistant professor Rahman Baba Chair Department of Pashto, ICP

ډاکټر اباسین یوسفزے د جدید ادب د سر نامه ده. که غزل دے که نظم د موضوعاتو تنوع ئې شاعري رنګينه کړې هم ده او د هر پښتون په شونډو ئې زمزمه کړې هم. د اباسین د شاعرۍ ډېر اړخونه دي ډېر رنګونه دي او د موضوعاتو په حواله خو خدائے داسې غني پيدا کړے دےچې فن ئې د جديد پښتو ادب د پاره د رڼا دمينار حېثيت لري. د هغهٔ شاعري د پښتون د سماجي، معاشرتي او نفسياتي  رنګونود بوډۍ ټال دے. هر رنګ پکښې پرېوانه دے. او هره موضوع پکښې عيانه ده. د اباسين يوسفزي په شاعرۍ کښې که روايت دے که جدت هر شعر ئې د خپل کلتور ثقافت او تهذيب په رنګونو کښې خوشت کړے په خپل ځانګړي انداز او اسلوب د فن جولۍ ته سپارلے دے. خپل تفکر ئې د خپلې سپېځلې عقيدې او نظرئې په ابِ حيات وينځلے او  د افغان په ښاغلي پيمانه کښې ئې د خپل فن شراب دخمار او مستۍ هغه مقام ته  رسولي دي چې څوک ئې هم اوري، لولي او ګوري  نو په هغه کښې دننه د پټ انقلابي سترګې پرانېزي. د هغهٔ په زړهٔ او ذهن کښې د لفظي تصويرونو او انځورونو داسې مجسم پېکرونه جوړ کړي چې د ذوق د تسکين سره پکښې فکري حظ  هم په لاس راشي. دغه لفظي تصويرونه که هر څو د لفظ د توريو نه جوړ وي خو د قاري په ذهن کښې يو  لاشعوري تصوير جوړ کړي او هغهٔ هم هغه مقام ته ورسوي چې د جمالياتي ذوق سره ئې نهٔ صرف په خپل ځانګړي انداز معرفي کړي بلکې هغه هم د دغې لفظونو د خوږو او شوخو په سمندر کښې د ځان سره غوپه کړي. او د يو اميد نوې رڼا ورته ورکړي.

په دې تحقيقي او تنقيدي ليکنه کښې د اباسين يوسفزي په شاعرۍ کښې د دغې انځورګرۍ جاج اخلو خو اول به راځو چې انځورګري وپېژنو. هره تخليقي ژبه او ذهن کښې د انځور ګرۍ قوت وي او هم دغه قوت يوې فنپارې ته د انځور ګرۍ رنګونه بخښي. داباسين يوسفزي په شاعرۍ کښې د انځور ګرۍ يا پيکر تراشۍ نه وړاندې د انځور يا پيکر په حواله ادراک او پوهه لازمي ده او بيا د دغې پوهې او ادراک په بنياد به مونږ د اباسين يوسفزي په شاعرۍ کښې دغه رنګونه لټوو او د دغې خبرې د اثبات کوشش به کوو چې د هر څهٔ نه پرته د اباسين يوسفزي شاعري د انځورګرۍ يا پيکر تراشۍ هغه نادره نمونه ده چې مونږ له د فکري حظ سره سم جمالياتي خوارږهٔ هم راکوي.

مشاهدې او تجربې د انساني ذهن فطري عمل دے  او هم دغه عمل د تخيل او تصور نه تاوېږي. او مادي او غېر مادي ارضي او غېر ارضي، فطري او غېر فطري څيزونه او خاصيتونه په خپله ولقه کښې د راوستلو کوشش کوي. او هم په دې وجه د انسان ذهن د ليدلي او ناليدلي او محسوس شوي او غېر محسوس شوي څيزونو د تصور سېوري د خپل  ذهن په دېوالونو نقش محسوسوي. انسان چې په پينځوو حواسو د مادي دنيا نه څهٔ هم اخلي د هغې انځور د هغهٔ په ذهن کښې خوندي کيږي. او چې بيا زمونږ د وړاندې د هغسې څيز ذکر کيږي نو د هغې انځور زمونږ د ذهن په پرده جوړيږي. او هم دغې ته  ذهني شبيه يا ذهني انځور وئيلے کيږي. او چې کله دغه انځور دلفظي تصوير په صورت وي نو هغې ته ژبنے انځور وئيلے کيږي. او په فني لحاظ چې مونږ ذهني انځور په ژبني انځور کښې بدلوو نو دغې عمل ته انځور ګري يا پيکر تراشي وائي.

د هرې ژبې په علم و فن کښې د پيکر/انځور استعمال د يوې اصطلاح په شکل شوے دے. او د هغې ماهرينو او پوهانو د پيکر يا انځور مختلف تعريفونه بيان کړي دي.

مولوي عبدالحق د لفظ امېج په حقله وائي:

**"صورت بنانا، شبیہ بنانا، منعکس کرنا، تصور کرنا، وضاحت سے بیان کرنا، تصویر کھینچنا، سماں باندھنا اور مثال ہونا وغیرہ"** i

دغسي په پښتو کښې د امېج مختلفي ترجمې په ځو کرته کېږي. چې پکښې انځور، تصویر، عکس، منظر کشي،ځېره، پیکر او تمثال وغېره عامې دي. خو په دې ټولو کښې انځور او تصویر ډېرې مقبولې دي. خوبعضې وخت د امېج معنې تشبیهه یا استعاره اخستے کېږي. او ډېرو پوهانو امېج د پیکر، مجسمې، خیال، عکس وغېره په معنو کښې هم استعمال کړے دے.

C Day Lewis د انځور په حواله وائي:

"انځور داسې یو جامد او خیالي څيز دے چې هغه د یو داسې څيز د علامت په طور په کارولے شي د کوم سره چې هغه مطابقت خوري. د مثال په توګه مرګ ته خوب وئيل یا د مړ کېدو د پاره د اوده کېدو لفظونه استعمالول. په نورو لفظونو کښې مونږ دا وئیلے شو چې انځور د ژبې یو مجازي شکل دے. هغه یوه تشبیهه ده. یوه استعاره او یا یو صنعت دے. یعني انځور د صنعتونو او ژبې د مجازي شکلونو هغه صورت دے چې هغه د بل یو څيز سره مطابقت لري. هر انځور څه حده پورې یوه استعاره ده. " ii

که مونږ دغې تعریف ته غور وکړو نو د ژبني انځور تعریف ته ډېر ورته کېږو. په دې کښې د انځور او د حقیقي څيز د مطابقت په حواله خبره شوې ده. یعني د دواړو د رشتې او تعلق په بنیاد انځور جوړېږي. خو دا هم ده چې په استعاره کښې خیال او تصویر دواړه موجود وي او د انځور د پاره د تصویر او تصور یو کېدل لازمي وي. نو ځکه په استعاره او انځور کښې تر ډېره حده مماثلت دے. خو یوه خبره داهم ده چې په انځور کښې زیات معنوي ژورتیا او وسعت وي.

پیکر د مجازي ژبې هغه صورت دے چې ورته د استعارې منزل وئیلے شو. او استعارې ته پیکر وئیل یا د پیکر معنې نۀ شو ورکولے. البته استعاره په خپلو خوبیو او صلاحیتونو پیکر جوړېدے شي.خو استعاره د ذهني قوت د مماثلت دریافت اوتخلیق دے. او مجازِ مرسل د ذهن د رشتې د قربت د تحلیق تصور دے. د ذهن دوه تخلیقي قوتونه وي. یو قوت د مماثلت په بنیاد استعاره جوړوي او بل د قربت په بنیاد مجازِ مرسل. خو دغه خبره هم ده چې د پیکر او استعارې تر مېنځه ډېر نزدې تعلق دے نو دا یو بل ته ډېرې نزدې لګي. په استعاره کښې د مجازِ مرسل نه سېوا ناشنا والے او نوے والے او د ترسیل قوت وي. د دې په حواله د یو فرانسیسي ژبپوهاند جې اسنالټ خیال ته هم غور کول پکار دي.

"مجاز مرسل د استعارې په شان نوې لارې نۀ جوړوي بلکې په زړو او اشنا لارو سفر کوي او هغه لارې رالنډوي چې د هغې سره د اشنا څيزونو وجدان په اسانۍ کېږي." iii

**په شاعرۍ کښې دمجاز مرسل خپل ځاے او ارزښت دے خو استعاره ترې زیات اهمت لري. او چې د اسټفن براؤن دې جامع خیال ته ګورو چې "استعاره، تشبیه، مجازِ مرسل، تمثیل، معمه، قیصه، افسانه، علامت، او اشارې له که یو نوم ورکړو نو هغه به پیکر یا انځور وي."** iv

**د دې نه دا اندازه لګي چې د ژبې دغه صورتونه د پیکر په دائره کښې راځي. په دغې اصطلاحاتو کښې یوه هم د پیکر وضاحت صحیح نۀ شي کولے. زما په خیال د ژبې ټول مجازي او تخلیقي شکلونه خپل**

مخصوص او منفرد خصوصيات لري او د پيکر/انځور د خصوصياتو په رنګ کښې رنګپډلو نه پس په دغه کښې هر شکل د پيکر/ انځور رنګ اختياروليے شي.

سي ډے لېوس د انځور د معنوي وسعت او ژور والي په تناظر کښې د خپل خيال څرګندونه داسې کوي.

"هر شعر او نظم په خپل ځاے يو انځور دے"[v]

انځور په اصل کښې د شاعرئ هغه طاقتور لساني عنصر يا هغه اظهار دے کوم چې د شاعر مافي الضمير د قاري يا اورېدونکي په ذهن منکشف کوي. د کومې په ذريعه چې د تصور او خيالاتو ژوندي تصويرونه د سترګو وړاندې راځي. د شاعر نصب العين د خپل داخل اظهار وي ځکه نو انځور ته د شاعر د شخصيت هېنداره هم وئيلے شي.

شاعر د خپل شعور په بنياد هغه کېفياتو له معني ورکوي کومې چې د ظاهري حواسو په لار د حقيقت وړانګې زمونږ د زړۀ او ذهن په آئينه انځوروي. او دغې ته د لفظونو او کېفياتو معني وئيلے شو. او لفظونه هم د دغې معنو د تصويرونو او انځورونو اجزا وي او هم دغه معنې د صحيح انځور سوب ګرځي.

شاعري معنوي مصوري ده. هسې خو هر څوک د لفظونو نه د معنو انځور جوړ وي. خو شاعر د دې صنعت استاذ دے. د چا تېز فکر او نظر او نکته رس شعورچې د حقيقت هغه خدوخال ښائي، هغه پټ رازونه رابرسېره کوي کوم چې يو عام وګړے غواړي چې اووينې او وګوري. لټون ئې کوي خو په لاس نۀ ورځي. شاعر هم دغه څۀ د موزون بيان په قالب کښې قالب کړي او د خپل فنکار وجدان په لاس ترې داسې انځور جوړ کړي چې هر څوک ورته حېران حېران ګوري.

شمس الرحمان فاروقي د انځور په حواله وائي:

"ہر وہ لفظ جو حواس خمسہ میں سے کسی ایک یا ایک سے زیادہ کو متوجہ اور متحرک کرے پیکر ہے۔ یعنی حواس کے اس تجربے کی وساطت سے ہمارے متخیلہ کو متحرک کرنے والے الفاظ پیکر کہلاتے ہیں۔"[vi]

د فاروقي په خيال انځور/پيکر هغه محرک دے چې پينځۀ واړه حسونه بېداروي. دا تعريف ذهن د انځور د ساخت سره سره د هغې د عمل پله بوځي.

شعري انځور د احساساتو او جذباتو د باقياتو انځورګري ده. جذبات ،احساسات او ذهني او روحاني ارتعاشات په رنګ، اواز يا خوشبو په خپله ولقه کښې راوستل انځور ګري ده. حقيقت ته رسېدل څۀ اسان کار نۀ دے او د شعري انځور استعمال صرف د فن کمال دليل نۀ دے بلکې د حقيقت د عرفان يو لطيف او مؤثره لاره ده. په کائناتو کښې هر څيز د يو بل سره تړلے دے. د دغې تړون او تعلق نوعيت د څيزونو او جذباتو او احساساتو په مېنځ کښې نقطه اتصال انځور ګري متعينوي. د دې نه دا ظاهرېږي چې شعري انځور صرف د مفرد الفاظو يا ترکيبونو په لار يوه محرکانه فضا پيدا کوي او هم په دغه لار قاري د معنو په سمندر ورګډ وي .

لکه دلبر لکه جانان ئې کال و سر موسم دے
خو په ګرمئ کښې بې ايمان د پښور موسم دے

پيتـــاوُ تـــه پـــروت يـــم ســـتا د يـــاد څــــهٔ خونـــدور موســـم دے
ټکـــور ټکـــور دے کـــه هـــر څـــو پرهـــر پرهـــر موســـم دے

تخـــم انبـــار دے خـــو دهقـــان پـــه خـــوارهٔ خـــوب اودهٔ دے
زمکـــه ښـــهٔ وتـــره ده او ښـــهٔ ښـــکلے د کـــر موســـم دے[vii]

پروفيسر عنوان چشتي ډېر په واضحه لفظونو د انځور په حواله ډېر څهٔ وئيلي دي هغه د پېکر په نفسياتي او لساني اړخونو رڼا اچولي ده وائي.

"پیکر کے دو مفہوم عام ہیں۔ ایک نفسیاتی تجریدی ہے۔ جس میں پیکر کو تصور عکس اور ذہنی تشبیھ تصور کیا جاتا ہے۔ اور دوسرا لسانی ہے جس میں پیکر کو زبان کی مختلف شکلوں یعنی استعارہ، تشبیہ اور لفظی تصویر وغیرہ خیال کیا جاتا ہے۔ پیکر کا پہلا مفہوم نفسیات اور دوسرا ادب سے زیادہ قریب ہے۔ لیکن پیکر کی جامع تعریف ان دونوں تصورات کے امتزاج کے بغیر نہیں کی جا سکتی ۔ نفسیاتی پیکر مادی ادراک کی تخلیق جدید ہے۔ جو جذباتی لمحات میں ذہن میں ابھرتا ہے۔ مثلاً اگر کوئی شخص کسی رنگ کو دیکھتا ہے تو وہ اسی رنگ کا ایک مخصوص پیکر اپنے ذہن میں محفوظ کر لیتا ہے۔ چونکہ پیکر کو ایک داخلی کیفیت کی شکل میں محسوس کیا جاتا ہے۔ اس لئے خود پیکر خارجی رنگ کی ثانوی نقل قرار پاتا ہے۔ لسانی پیکریت ان تمام پیکروں کی طرف اشارہ کرتے ہیں۔ جو مادی ادراک کو دھراتے ہیں۔ اور قاری کے تجزیوں کو بیدار کرتے ہیں یا حسی تاثرات کو ابھارتے ہیں۔ چونکہ شعر تجریدی خیال اور پیکر کا مرکب ہوتا ہے۔ اس لئے پیکر میں دونوں چیزیں یعنی پیکر اور خیال کے مرکبات شامل ہیں جو چیز پیکر کو قوت و تاثیر عطا کرتی ہے وہ پیکر کی محاکانیت سے زیادہ اس کی ذہنی وقوع پذیری ہے جو ہیجانات سے متعلق ہوتی ہے۔"[viii]

د دې نه دا اندازه لګول ګران نهٔ دي چې د انځور ګرئ اجزا صرف ذهني پېکر/ انځور نه بلکې د خيال او پېکر د يو والي مرکبات او لفظونه او بيا د لفظونو هغه ټول صورتونه په انځور يا پېکر جوړلو کښې لاس لري کوم چې د ذهني پېکر د جوړولو اجزا وي. اګر چې انځور حسي او ادراکي وي خو ولې بيا هم دا د يو غېر حسي څيز نمائندګي کوي. او يو داخلي څيز پله اشاره کوي. دا په يو وخت د ذهني خاکې د بيان په اظهار او د استعارې په ټولو صورتونو مشتمل وي. نو ځکه مونږ دا وئيلے شو چې انځور يو داسې لساني او ذهني تصوير دے د کومې په لار چې شاعر د خپلو نازکو نادرو او نايابو شعري تجرباتو اظهار کوي. د دې نه پرته هغه د دې سر سنبه او سينګار کوي او د هغې د رونبولو کار ترې اخلي. انځور يو داسې الهامي نزول دے چې د هغې ډېره حصه لاشعوري وي. او د هغې کېفيت د هغې لمحې سره تړلے وي کله چې جذبات په عروج وي. دا نزول په اصل کښې د شاعر د جمالياتي تجربو متعلق وي يعنې انځور د شاعر د تصوراتو او د هغهٔ د تخيل د رېګزارونو متعلق کېدے شي. د څيزونو او د هغې دخصوصياتو باره کښې کېدے شي. د دې نه علاوه د هغې څيزونو او واقعاتو متعلق هم کېدے شي د کومې نه چې هغه تېرېږي او د هغهٔ په ياداشتونو کښې هغه محفوظ پاتې شوي وي او هغه نه هېروي. يعنې د شاعر د ښکاره او پټ جمالياتي تخليقي او مادي تجربو مغز انځور بللے شي. تخليق کار بعضې نيم وخت د خپل باطني کېفياتو اظهار نبغ په نبغه نهٔ شي کولے. بلکې د کائنات د

بعضې ځيزونو او نورو مظاهرو په مماثلت او مناسبت خپل اظهار ته ځلا بخښي. او هم په دې چل د هغۀ د مافي الضمير بالواسطه اظهار کيږي. او دې عمل ته د تخليق کار انځور ګري وئيلے شي. د قاري يا ناقد په حبث چې مونږ کله د تخليق يا فنپارې مطالعه يا تنقيدي جاج اخلو نو د هغې په رد عمل کښې هم دا چل کيږي. يا به دا اووايو چې د هغې فنپاري متعلقه عناصر زمونږ حواس متاثره کوي. په دې عمل کښې مونږ يوه فنپاره د يو لساني انځور په صورت کښې وړاندې کوو. او د دې نه پس د يو قاري يا نقاد په حبث د تخليق يا فنپارې نورې خوبۍ اونزاکتونه لټوو. په دې چل کښې د دې خبرې خاص خيال ساتلے کيږي. چې د فنپارې بنيادي ساخت څۀ دے. د هغې مجازي، تخليق اوجمالياتي ژبه د کوم نوعيت ده. په دې کښې د استعارو او انځور استعمال او د هغې شناخت څۀ دے. اصل کښې انځور ګري د انساني ذهن بنيادي وصف دے. هم په دې وجه په هر تخليق کښې د انځور عنصر فطري خبره ده.

چونکه هر ټکے،هر ترکيب، هره استعاره، هره تشبيهه او هر علامت کښې د انځور جوړېدلو صلاحيت موجود وي نو ځکه د فن پارې په ساخت د غور کولو نه پس مونږ د انځور ګرۍ شناخت کولې شو. خو د دې انحصار د تخليقي ژبې په مخصوص استعمال وي. لکه د اباسين صېب دا يو څو شعرونه چې پکښې د نو مخصوصې ژبې استعمال په مخصوص انداز شوے دے.

حالات مې د وجود د هر اندام نه وينه څښي
ژورې مې لګيا دي په ځوانۍ خورې ورې

چينو ته لارې بندې ګودرونه شو تول شاړ
ټوکيږي تلمبرې د خوړ په ژۍ خورې ورې [ix]

د لوپټې پيڅکے ئې ونيوو په غاښ وئيل ئې
ګلشن ته ځو خو په کمڅو به دې لاسونه ترم

ستا د چپو چشمانو نه مې ويره کېږي
ځکه په غاړه کښې د اوم سپېنسي بندونه ترم [x]

اباسين ورته چپې چپې چپې شي
چې منګي نه په ګودر غبږه راتاؤ کړي [xi]

په توروغرونو کښې ئې ځکه زړۀ راتول غوندې وي
ستا اباسين پيدائشي دے د ښکلا لېونے [xii]

زمونږه زړونه لکه تمبل په يو تال غږيږي
روحونه يو دي هغه ځان ګوري زۀ ځان ګورمه [xiii]

په دې شعرونو کښې شاړ ګودرونه، تلمبرې، ژورې، د لوپټې پيڅکے غاښ کښې نيول، په کمڅو لاسونه تړل، چپو چپوچشمانو، د سپنسي بندونه، اباسين چپې چپې کېدل، د منګي نه غېږه تاوهل. تورو غرونو کښې زړۀ راټولېدل، تمبل او تال وغېره د مخصوص انداز انځورونه جوړوي. د څۀ په شا چې د ژوند رنګا رنګي تجربې موجودې دي. او د قاري په ذهن کښې خپل تاثر منکشف کوي. خو دا خبره دلته نۀ ختمېږي ځکه چې کـه دا انځور ګري وي نو په انځورګرۍ پوهېدل ګران نۀ وو. په دې ضمن کښې اصل مشکل او ګران کار دا دے چې انځور ګري صرف د منظر نګارۍ نوم نۀ دے بلکې د ژبې مجازي او تخليقي استعمال هم غواړي. د مجازي استعمال نه مطلب د ژبې تخليقي يعني غېر لغوي استعمال دے. د مثال په توګه دا شعرونه وګورئ.

د سول سول ګرېوانه بسمې بسمې زړګي قيصه ده
چې ستا د څنې ګل وُ د هغې زړګي قيصه ده

اوس چې ستا يادونه هم هيڅ پېښه ورته نۀ کړي
دا يوه د داسې بې اسرې زړګي قيصه ده xiv

د غرور پېرے دې کوز کړه چرته راشه
لاړ به نۀ شي دوباره زمـا د کـور نه xv

د وخت په سمندر کښې چې مې ذات چپې چپې دے
په ماته آئينه کښې به خپل ځان څنګه راټول کړم xvi

تۀ د اباسين په غاړه وچې شوندې ناست ئې
ستا هم زندګي کېږي حېران يمه حېران xvii

دېنائست ئې نۀ ثاني شته نۀ جواب شته
لکه راګ چې مجسم شي داسې دے xviii

خپسه مې په ټول وجود سوره شي د يادونو
سم لاس رالـه څوک کېږدي په تيندوړي په غرمه کښې xix

په دې شعرونو کښې د ژبې تخليقي استعمال شوے دے. اباسين يوسفزی د خپل شعري اظهار د مؤثره کولو او په دې کښې د جامعيت او همه ګيرۍ پيدا کولو په غرض تشبيهه استعارې، او علامت په منفرد فنکارانه انداز استعمال کړي. سول سول ګرېوان، بسمې بسمې زړګے، دغرور پېرے، د اباسين په غاړه وچې شوندې ناسته، راګ مجسم کېدل او خپسه سورېدل داسې لفظونه او ترکيبونه دي چې د دې په استعمال شعري صنعتونو ته شوخ او خوا‌ږۀ رنګونه وربخښلي دي. او په بنيادي توګه د تخليقي ژبې دا اجزا د انځوريت عناصر دي. انځور ګري په وړه سطح هغه کار کوي کوم چې په غټه سطح شاعري کوي. د شاعرۍ د پوهې يوه اسانه لار دا هم ده چې شاعر د دنيا د بې ترتيبۍ سره مخ د خپلې شاعرۍ په تناظر کښې په ترتيب ردِ عمل ښائي. ګويا

شاعرانه انځور ګري یا خو د بې ترتیبۍ احساس شوخوي یا په ترتیب احساس نور هم ژوروي. د مثال په توګه د اباسین د یو نظم یوه ټوټه وګورئ.

د پشکال سره غرمه
د خولو شړق وۀ په ما
غارمه تک سرۀ وو دومره
چې سترګو کار نۀ کوو
ما چارچاپېره کتل
او وار خطا غونډې ووم
تندې اخستے وومه
زړګي مې وار نۀ کوو[xx]

اود Sidney د نظم دې ټوټې ته هم ځیر کېدل پکار دي چې دواړو ځنګه د خپل احساس بې ترتیبي په ترتیب کښې بیان کړې ده.او بیان ئې پکښې زور اچولے دے.

**With how sad steps**
**O moon, thou, climbs at the skies**
**How silently, And with how**
**Wan a Face**[xxi]

ژباړه: اے سپوږمۍ! تۀ څومره په زیړ( بې نوره ) مخ څومره په خاموشۍ په غمژنو ځنګېدلو قدمونو د اسمان په وسعتونو کښې سفر کوې.

د دې نظمونو تل ته کوزېدل د انځور ګرۍ د مطالعې نه بغېر ګران دي. دلته د پشکال غرمه او زیړ مخې سپوږمۍ دواړه د انسانانو د دردېدلي احساس انځوروونه دي. خو دا انداز په خپل ځان کښې نورې معنې او رنګونه هم لري. د سپوږمۍ مجسم کېدل او د پشکال تنده اخستل د انسان په درد او غم کښې اخته کېدل یو واضحه خیال وړاندې کوي. د دې یوه ښکلا او حُسن دا هم دے چې شاعر د خفګان او خپل دړد د اظهار د پاره بالواسطه او په ډېر هنر او ذهانت ښۀ کوتلے شعري طریقه کار په کار راوستلے دے. د ژوند د هر ډګر نه ئې خفګان او پیکه والے په داسې انداز د پیکه پیکه څیزونو د احساس په لار په مؤثر او منضبطه طریقه راټول کړي دي. چې مونږ دا وئیلے شو چې انځورګرۍ دغه خیال لږ شان تاؤ راتاؤ کړے دے. او بیا ئې په کښې زور پیدا کړے دے. په ادب او په خصوصي توګه په شاعرۍ کښې د انځور ګرۍ لوے ارزښت دے. د انګرېزۍ د شاعر ورډ ورتهـ ویـنا ده.

"شاعري د انساني فطرت عکس(انځور) دے. "[xxii]

او دغسې د شاعرۍ د تعریف په مدکښې تي ډبلیو ډاتن په تصویري ترسیل ډېر زور راوړے دے.

"خالصه شاعري د انساني ذهن هغه جذباتي او د آهنګ نه ډک لساني اظهار دے کوم ته چې مادي او فنکارانه خو تصویري اظهار هم وئیلے کېدے شي." [xxiii]



Pukhtunkhwa Journal

**کيو ايچ کاډوېل په شاعرۍ کښې د تصويرسازۍ/ انځور ګرۍ صلاحيت ته په درنه سترګه ګوري.**
**"د تخيل د ټولو نه ورومبے او د ټولو نه ښکاره وصف د تصويرسازۍ يا انځورګرۍ صلاحيت دے. د دې صلاحيت په ذريعه ذهن داسې انځورونه هم پيدا کوي کوم چې د سترګو وړاندې نۀ وي او يا په حقيقت کښې د هغې څۀ وجود نۀ وي."** xxiv

**د دې مطلب دا شو چې د انځورګرۍ په صلاحيت شاعر په خپل شعري اظهار کښې نااشنا څيزونو له يو نوم ورکوي او يو شکل ورته بخښي. د شېکسپير په خيال**
**"د شاعر سترګې په خپل بې چېنه نظر يا جنوني کېفيت کښې د زمکې نه د اسمان يا د اسمان نه د زمکې نظاره کوي. او چې د تخيل سانچه ئې پخيږي نو د شاعر قلم غېر متعارف څيزونو له شکل ورکول شروع کړي. او يو لا وجود څيز له وجود او نوم ورکړي او په دې زمکه ئې په خپل ماحول کښې معرفي کړي."** xxv

**د شاعر د ذهن تصوير سازي د هغۀ د ذهانت په وجه وي. او قاري يا اورېدونکے دومره متاثره کوي چې هغه د شاعر د خيالاتو او تاثراتو په لاره د هغۀ د باطن ژورو ته د رسېدو جوګه شي. شاعري فطري وصف دے. دا د انساني ذهن بنيادي عمل دے. انسان د موجوداتو نه اول تصورات جوړوي. په ازاد ذهن د سوچ نه مخکښې ويره او د ساډوبۍ سره خپلو صلاحيتونو ته پام کوي. د وېنا نه مخکښې د ځان سره اکثر ګونېږي. سندره وائي، د نثر نه وړاندې د نظم په ژبه خبرې کوي. او د تکنيکي اصطلاحاتو نه وړاندې د استعارې استعمال کوي. او دغه د استعارې ژبه ئې فطري وي. او هم دا د انځور ګرۍ يا د منظر نګارۍ بنياد دے. او دغه انځور ګري د شاعرۍ روح دے.**

د انساني ذهن بنيادي عمل انځور ګري يا پيکر تراشي ده. يعني شاعرۍ کښې انځور ګري يو بنيادي او ارزښتناک توکے دے. مونږ دا وئيلے شو چې شاعري د تخليقي عمل نه تېر شوے د انساني ذهن او ضمير هغه جمالياتي ردِ عمل دے کوم چې معنی خېز هم دے او د آهنګ نه ډک هم.

شاعري څۀ کاونټر لېنګوېج نۀ دے بلکې يو کلک، کوټلے او ښکارېدونکے څيز دے. په نورو لفظونو کښې وئيلے شو چې شاعري د بيان هغه انداز دے کوم چې ليدے شي. د شاعرۍ ژبه د وجدان يوه داسې ژبه ده. چې احساس ته د منتقل کېدو توان لري.. او يو کس د ځان سره په يوه خيالي لاره لاس نيولے بوځي. د بصري مفهوم ادا صرف د انځور په جام کېدے شي. نثر خو يو داسې زوړ لوښے دے. د کومې نه چې بصري مفاهيم توييږي. په شاعرۍ کښې انځور صرف د ښکلا يا د سنيګار د پاره نۀ وي بلکې دا خو د يوې وجداني ژبې محاصل دے. انځور ګري يواځې کمالِ فن نۀ دے بلکې د حقيقت د عرفان يوه ډېره لطيفه او موثره وسيله ده. په کائنات کښې هر شے صرف د يو بل متعلق نۀ دے بلکې د يو بل سره تړلے دے. او دغه تړون مونږ د شعري انځورګرۍ په لار پېژندلے شو. ځکه چې د څيزونو او جذباتو او احساساتو په مېنځ کښې همدغه يوه نقطه د تړون نخښنه ده. او ظاهره ده چې شعري انځور ګري د لفظونو او ترکيبونو په لار يوه محرکانه فضا نۀ قائموي بلکې د ځان سره د معنو رنګونه هم راوړي. شاعر کله کله خپلې بنيادي رويې او د اقدارو نظام هم لوستونکي ته رسوي. ګويا شعري انځور د نظم يا غزل په معنوي لحاظ د مستحکم کولو مظهر دے.

د مختلفو ادیبانو، پوهانو او دانشورانو د نظریاتو د مطالعې نه پس دا خبره واضحه ده چې شاعري یو قسم له مصوري ده. یعني شاعر د یو څيز خیال او حالت په خپل فنکارانه ادا د شاعرۍ په ژبه داسې انځوروي چې یو مصور ئې د خپل ټول مصورانه صلاحیتونو باوجود په کېنوس نه شي انځورولے. انځور ګري د شاعرانه مصورۍ ماحصل او بنیاد دے. دا د تجربې د یو نه سپوا مخونه مونږ ته واضحه کوي. او په شعر کښې د تصویریت او معنویت اختلاط او د انځور نه انځور جوړولو کېفیت د ژوند د کرمو یو ښکلے، حسین او روڼ انداز راوړاندې کوي. لکه اباسین یوسفزي چې په خپل کلام کښې څنګه انځور ګري کړې ده. هغه هم د دغې چوکاټ مطابق ده.

ستا یادونه مې په زړۀ داسې خوارۀ دي
لکه وني نه چې کور غبره راتاؤ کړي[xxvi]

د ښو په غاښور ئې ټول خوبونه رانه ټول کړه
خدایه بیا مخې له راغله لېونۍ په ماښامي کښې[xxvii]

غوخ غوخ لاسونه چاودې شونډې د اجرت په طلب
د محل مخې ته مودو نه کاڼي ټک ولاړ دي[xxviii]

ګله ډېر حسین ئې خو رقیب مې په کمڅو کښې شې
داسې د جانان په اوږو سور په کلي مۀ راځه[xxix]

د ځنګل اور دے نو اخر بیا به ئې څنګه وژنې
که ګورې زلفې دې زما د ساه نه اور واخلې[xxx]

سپینه سپوږمۍ خېژي په غر باندې راپرې نۀ وځي
د چینارونو په ګودر باندې را پرې نۀ وځي
ټول دېوالونه ئې چاودلي دي کاږۀ واږۀ دي
چرته دا کور زمونږ په سر باندې را پرې نۀ وځي[xxxi]

دا وریځې راتاؤ شوي د سپوږمۍ نه
که پلو دې مخ رانیسي د شوخۍ نه
ستا د زلفو تار د زړۀ په رباب سُر کړم
څۀ خوږي سندرې اورم د ځوانۍ نه [xxxii]

په دې شعرونو کښې چې مونږ د اباسین یوسفزي د تخلیقي توان جاج اخلو نو دا خبره ترې جوتېږي چې د یوې مفکورې سره سم زمونږ ذهن ته یو داسې انځور هم راځي چې هغه شوخ هم دے رنګین هم. زمونږ خپل هم دے او زمونږ د فکر ترجمان هم.

د کوَر غېږه، د بنو غاښنور، کاڼي ټک، د ګل د حُسن په اوړو سور، د ځنګل اور، زلفي او ساه داسي ترکیبونه دي چې زمونږ په لاشعور کښې پراتهٔ بلها تصویرونه رابرسېره کوي او مونږ له د ذوق د تسکین سره سم د معنو او مفاهیمو درنګونه راکوي.

انځور ګري دانشورانو او پوهانو په څو قسمونو کښې وېشلي ده. یو انګرېز لیکوال داسي وائي:

"There are seven distinct types of imagery: visual, auditory, olfactory, gustatory, tactile, kinethetic and organic. Many of these deal with the fice senses, which all work toghether to help us create matel image of whatever we are reading."xxxiii

انسائکلوپیډیا آف پوئیټري اینډ پوئټکس هم د انځور تقسیم په پینځوو حسونو او حسي ادراک کړے دے. هلته انځور ګري په دې ډول تقسیم ده.

"بصري انځور، سماعي انځور، شامي انځور، ذوقي انځور (د ذائقي انځور) ، لمسي انځور،عضوي انځور،عضلاتي انځور".xxxiv

1. بصري انځور: په دې کښې څلور قسمه انځورونه شامل دي.
(الف) د رنګا انځور، (ب) د صفائی انځور، (ج) د رنګ انځور، (د) د حرکت انځور.
د بصري انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

لکــــه بـــي ســـترګو چـــي تیـــارهٔ او رنـــا نـــهٔ پیژنـــي
هغــه بــه ړونــد وي پیغمبــره(ص) چــي تــا نــهٔ پیژنــيxxxv

پــــه تــــورو تــــورو زلفــــو کښــــي دي نیغــــه ســــپینه لار
ښــــکاریږي لکــــه تــــورو تــــورو غرونــــو کښــــي دېــــوالxxxvi

د چمـــن ســـترګي دریـــسي ســـرې دي یـــو ځلـــي راشـــه پـــه زړو لارو
سپرلے سمسور دے د حُسن زور دے مارغان چغیږي ګلونه ډېر ديxxxvii

اســــمان چــــي کلــــه وبریښــــي خنــــدا دې را پــــه یــــاد شــــي
بــــاران خــــو ســــتا د حُســــن تــــلاوت دے څکــــه خــــوږ دےxxxviii

پکښــــــي بریښــــــي ســــــتوري ســــــتوري مقېشــــــونه
ســــتا پــــه شــــال مــــي د اســــمان مینــــه مــــاتیږيxxxix

نــــور مــــي هــــېڅ نــــهٔ دي پکــــار خــــو ســــره جــــوړه بــــه راوړې
لــــږه نکریــــزه څــــو بنګــــړي او دنداســــه بــــه راوړېxl

2. سماعي انځور:

د سماعي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

ښکالو دې نشته د قدم څۀ انګازه نشته دے
لکه تصوير راته د هيڅ شي اندازه نشته دے[xli]

لکه سوالګرے په کوڅۀ کښې غلے نۀ ودرېږم
زۀ اباسين يم ستا په کلي کښې په شور ګرځمه[xlii]

زۀ په يوه وړه شانتې جونګړه کښې اوسېږمه
تۀ د اباسين غوندې په شور په کلي مۀ راځۀ [xliii]

لکه شپونکے د سوز ګداز ډکه شپېلۍ غږوي
يا لکه پاڼې د نښتر تېزه سېلۍ ژړوي

يا لکه سويه چرته ډېر ظالم ښکاري قتلوي
يا لکه څوک د خوار بلبل اشيانه ورانوي

د سماعت هرې پردې ته چې نظر رسېدو
داسې اواز چې د زړۀ تل ته ئې اثر رسېدو[xliv]

3. شامي انځور

د شامي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

ستا د زلفو خوشبوياني ترېنه خېژي
دا جامې مې ځکه نۀ وينځم له بته [xlv]

يو شپه مې ستا په سپينه لوپټه کښې تېره کړې
تر اوسه خوشبوياني ګام په ګام په ما پسې دي[xlvi]

نۀ پوهېږم چې ورمه ئې کۀ نغمه ئې
چې ګوګل ته مې د سترګو نه په غلا ځې[xlvii]

پخوا چې ويشتے ووم جانان د کشمالو په غنچه
څومره خوشبو به مې ياړانو د پرهر نه راځي[xlviii]

Pukhtunkhwa Journal

دا خوشبوياني په ځان چا نوستې دي
چې د ټول کلي نه ورمې راخېژي xlix

4. ذوقي انځور ( د ذائقې انځور)

د ذوقي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

ژوند مې ټول د ازغکي په شانې تريخ دے
بې لتا مې په چا سترګې نۀ خوږېږي l

انګور سره ياري ده که د بنګ سره ياري ده
د مستو خو د ژوند د هر يو رنګ سره ياري ده li

څوک چې زهر ګام په ګام د خپل مزل خوري
دے به قند د محبت له کوره تل خوري lii

په خوږلن کښې د خوږلت نه خبردار شوم
د جانان د نزدېکت نه خبردار شوم
د نفرت پيکه پيکه اينګولي نۀ خورم
چې د مينې د نعمت نه خبردار شوم liii

5. لمسي انځور:

د لمسي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

په شونډو چا دنداسه ومږله
چې د محلت نه غرغنډې راخېژي
په مائې سترګې تورې تورې کړلې
د چا د سترګو نه لمبې راخېژي liv

شونډې دې پيکه منګولې يخې دي
دا د بې وفاؤ خلقو نخښې دي lv

هغه ګورې ګورې زلفې مخملينه تاوده غېږه
د يخنۍ نه وشوشکېږم د ګرمۍ په ماښامي کښې lvi

سترګي دې شمعي دي لمبې نه دي نو نورې څه دي
د شوندو کربښې دې اریې نه دي نو نورې څه دي[lvii]

## 6. عضوي انځور:

د عضوي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

لکه تېرې تېرې سمبې مې له ګوګله وځي
هر یو ارمان ته مې ښېرې د زړهٔ له تله وځي
روح به مې هم ورسره وځي پوخ یقین لرمه
که ستا څېره مې د وجدان نه مکمله وځي[lviii]

په ګوګل دننه تول پر هر پرهر یم
زهٔ د درد د هرې څرېکې نه خبر یم
د دنیا هرې سختۍ ته مې زړهٔ ټینګ دے
خو چې وخت د مینې راشي نو اوتر یم[lix]

د سلګو شور مې په محلت کښې زلزلې راوستې
په دې ژړېږم چې بیا هم جانان په خوب اوده دے
دنیا لګیا ده بې وزرو په اسمان کښې ګرځي
د اباسین له قامه شم قربان په خوب اوده دے[lx]

## 7. عضلاتي انځور:

د عضلاتي انځور ګرۍ انځورونه مونږ په دې شعرونو کښې محسوسوو.

ورانه باغیچه او د بلبلو شور
اورمه د زړهٔ د ماتېدلو شور
کله چې ویجاړ کودر ته وګورم
سوے زړهٔ مې غواړي د پائیلو شور[lxi]

وارمې خطا شي ستا د یاد په هنګامه راپاځم
زهٔ چې له خوبه راپاځم ستا په نامه راپاځم
ستا مجبورۍ لکه زنځیر زما د پښو نه تاؤ شي

کـــهٔ څـــو څـــو ځلـــه د درتلـــو پـــه اراده راپـــاڅم lxii

مينـــه چـــې رادرومـــي نـــو د عقـــل مـــزے پـــرې شـــي
اورتـــه بـــه ســـره د پـــوهې کلـــه څـــوک نـــزدې شـــي
بيـــا بـــه دې هـــم چـــاپ د قـــدمونو ښـــکلومه
نمـــر کـــه نېـــزه وال شـــي او دا زمکـــه د تـــانبې شـــي lxiii

ســـتا مئـــين د لېونتـــوب لـــه حـــده تېـــر شـــو
پـــه نوکونـــو ئـــې هـــر ځـــاے کـــړو کرښـــې کرښـــې lxiv

طبعيـــت دې د ماشـــوم غونـــدې نـــازک دے
کـــه خبـــرې دې پســـتې دې زړهٔ دې کلـــک دے lxv

نـــهٔ مـــې زړهٔ رڼـــا شـــو نـــهٔ مـــې ذهـــن منـــور شـــو
څـــهٔ پـــه بـــې دردۍ د ښيســـتنو پـــه مېـــنځ کښـــې وســـوم
ګونـــګ شـــومه پـــه ژبـــه پـــه شـــته ځُلـــهٔ کښـــې بـــې اظهـــاره
عمـــر لـــه د خپلـــو ولولـــو پـــه مېـــنځ کښـــې وســـوم lxvi

د دې څو مثالونو په بنياد مونږ دا وئيلے شو چې اباسين يوسفزے د فن په هغه مقام ولاړ دے چرته چې لفظ د خپلې معنې په انځور د فکر او نظر په رنګونو منور د خپل ځان او چاپېرچل ترجماني هم کوي،مصوري هم، رنګونه هم شيندي، فکرونه هم. په هر لفظ او ترکيب کښې يو تصوير دے. او د تصور په شا که يو خوا د خپل محبت د جذبو شوخ رنګونه لري نو بلخوا د يو هوښيار او ماهر انځور ګر په څېر هغه لفظي او لساني انځورونه جوړوي چې زمونږ د تحت الشعور نه هم د يادونو او جذبو انځورونه د حقيقي رنګونو او شوخو جذبو په کېنوس انځوروي. دغه ترکيبونه زمونږه د تخيل سره يو شان جذب شي او بيا ترې يو ښکلے، نازک او ګلورين انځور جوړ شي. چې د قاري يا سامع د ذوق د تسکين سوب ګرځي. د اباسين يوسفزي د تصور تعلق په ياداشتو دے خو د دغې ياداشتو رشته د شعور او لا شعور سره جوړه کړې ده. او د انځور تعلق نېغ په نېغه د ادراک، خيال، فکر او تصور سره دے. بلخوا د خيال او حافظې يا يادشاتونو هم د يو بل سره تړون دے. خو دا خبره هم حقيقت دے. چې د اباسين يوسفزي د انځور په لمن کښې چې د کوم خيال خصمانه کېږې هغه د هغهٔ خپل نقطه نظر، طرز فکر او احساس، جمالياتي تجربې او د تخليقي شخصيت هېنداره ده.
د اباسين يوسفزي تخليقي عمل د حسي ادراک په جذبو کښې خوشت دے. او هم دغه وجه ده چې دغه سپېځلې جذبې د اباسين يوسفزي شاعري واقعي شاعري کوي. د اباسين شاعرې د تصور او جذبې ژبه ده. اوهم دغه تصور او جذبې د هغهٔ شاعرۍ کښې د انځور ګرۍ هغه نادرې نمونې خوندي کړې دي چې پکښې مونږ ته خپلې تولې جذبې مجسمې ښکاري. د تخيل عنصر د اباسين د شاعرۍ انځور له تازګي او ندرت ورکړے دے. په جذبو کښې ئې شدت دے. او هم دغه وجه ده چې د هغهٔ شعر خپل يو ځانګړے تاثير هم لري او د يو تحريک په څېر د

ژوند د بقا فکر هم. او هم دغه د جذبو شدت، تاثير او اشنائي چې په کومه موزونه او کامله طريقه اباسين انځور کړي ده نومونړ د هغهٔ شاعري شاعري نهٔ ساحري ګڼلے شو.

## حوالي

[i] مولوي عبدالحق، انګلش اردو ډکشنري، ب ، ت- دهلي، ص ٥٤٠

[ii] C Day Lewis, The Poetic image, 1958, London, p 18

[iii] Asnault , Imagination populaire mataphorese Accidentales, 1925, Paris, P 31

[iv] Estifion Brown, the world of imagery, 1926, p 22

[v] C Day Lewis, The Poetic image, 1958, London, p 124

[vi] فاروقي شمس الرحمان، شعر، غېر شعر اور نثر، اله اباد، ١٩٧٣ء ، ص ٣٠

[vii] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ٢٠١٦ء، ص ٧٥

[viii] عنوان الدين چشتي، پروفېسر، اردو شاعرى ميں جديديت کى روايت، دهلي، ١٩٧٧ء ، ص ٢٤٦ – ٢٤٧.

[ix] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ٢٠١١ء، ص ١٦٨

[x] همدغه اثر، ص ١٣٦

[xi] همدغه اثر، ص ٤٠

[xii] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ٢٠١٣ء، ص ٢٨

[xiii] همدغه اثر، ص ٤١

[xiv] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ٢٠١١ء، ص ٧٨

[xv] همدغه اثر، ص ١١٨

[xvi] همدغه اثر، ص ١٣١

[xvii] همدغه اثر، ص ١٩٦

[xviii] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ٢٠١٣ء، ص ٢١٢

[xix] همدغه اثر، ص ٢١١

[xx] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ٢٠١١ء، ص ١٨٢

[xxi] شهپر رسول، اردو غزل ميں پيکر تراشى، ريختہ ڈاٹ کام، ٢٠١٧-١٠-٢٠

[xxii] J .park and martin coyle, litrerly terms and criticism, p 36

[xxiii] T. W Doton , english critical essays, 19the century, p 14

[xxiv] Encyclopdia britanica Vol 18, p 106

[xxv] شهپر رسول، اردو غزل ميں پيکر تراشى

[xxvi] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ٢٠١١ء، ص ٣٩

[xxvii] همدغه اثر، ص ٤٨

Pukhtunkhwa Journal

[xxviii] همدغه اثر، ص ۵۷
[xxix] همدغه اثر، ص ۸۷
[xxx] همدغه اثر، ص ۱۰۸
[xxxi] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ۲۰۱۶ء، ص ۵٦
[xxxii] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ۱۳۸
[xxxiii] http// English.edurite.com/literary-response/imagery.html 10-05-2017
[xxxiv] مولانا شبلي نعماني، شعرالعجم ، جلد څلورم ، ص ۱۱
[xxxv] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ۲۰۱۱ء، ص ۲٤
[xxxvi] همدغه اثر، ص ۲۸
[xxxvii] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ٤۳
[xxxviii] همدغه اثر، ص ٦۳
[xxxix] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ۲۰۱٦ء، ص ۳۷
[xl] همدغه اثر، ص ٦۳
[xli] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ۱۵۵
[xlii] همدغه اثر، ص ۱۵۸
[xliii] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ۲۰۱۱ء، ص ۸۷
[xliv] همدغه اثر، ص ۹٦
[xlv] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ۵۸
[xlvi] همدغه اثر، ص ٦۷
[xlvii] همدغه اثر، ص ۷۰
[xlviii] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ۲۰۱۱ء، ص ۳۱
[xlix] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ۲۰۱٦ء، ص ۳۰
[l] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ۵٦
[li] همدغه اثر، ص ۹٦
[lii] همدغه اثر، ص ۹۷
[liii] همدغه اثر، ص ۱٤۰
[liv] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ۲۰۱٦ء، ص ۳۰
[lv] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ۲۰۱۱ء، ص ٤٤
[lvi] همدغه اثر، ص ٤۸
[lvii] همدغه اثر، ص ٦٤
[lviii] همدغه اثر، ص ۸۰
[lix] همدغه اثر، ص ۱۱۰
[lx] يوسفزے، اباسين، مرام، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، مارچ ۲۰۱٦ء، ص ۸٦ - ۸۷
[lxi] همدغه اثر، ص ۹۳
[lxii] همدغه اثر، ص ۹۲
[lxiii] يوسفزے، اباسين، غورځنګونه، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، جون ۲۰۱۱ء،ص ۱۱٤
[lxiv] همدغه اثر، ص ۱٤٦
[lxv] همدغه اثر، ص ۱۵۰
[lxvi] يوسفزے، اباسين، الوت، شعيب سنز پبلشرز اينډ بک سېلرز جي ټي روډ مېنګوره سوات، ۲۰۱۳ء، ص ۱۷۲